قال الله تعالى: قُلْ إِنَّمَا أَدْعُو رَبِّي وَلَا أُشْرِكُ بِهِ أَحَدًا (الجن)

قال الرسول صلى الله عليه وسلم

مِنْ أَكْبَرِ الْكَبَائِرِ الشِّرْكُ بِاللهِ (رواه البخاري)

د قرآن او د احاديثِ صحيحو نه

خپله عقيده واخله

تأليف محمد جميل زينو مدرس دار الحديث / مكة مكرمة

Kingdom of Saudi Arabia
The Cooperative Office For Call And Guidance To Communities at Um Al-Hammam
Under the Supervision of the ministry of Islamic Affairs Endowment Guidance & Propagation
Tel. 4826466 / 4884496 Fax 4827489 - P.O. Box 31021 Riyadh 11497

Pustu
30

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ح المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد بحائل ، ١٤١٨هـ

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

زينو ، محمد بن جميل

من أكبر الكبائر الشرك بالله .ـ حائل .

٣٢ ص ؛ ١٤ × ٢١ سم

(النص بلغة البشتو)

ردمك : ٤ - ٣ - ٩١٨٧ - ٩٩٦٠

١- الشرك بالله أ- العنوان

ديوي ٢٤٠ ١٨/ ١٨٦٦

رقم الايداع ١٨/١٨٦٦

ردمك : ٤ - ٣ - ٩١٨٧ - ٩٩٦٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

قال الله تعالی: قل انما ادعوا ربی ولا اشرک به احدا (الجن)

قال الرسول صلی الله علیه وسلم:

مِن اکبرِ الکبائرِ الشرکُ بالله (رواه البخاری)

د قرآن او د احادیثِ صحیحو نه

خپله عقیده واخله

تالیف: محمد جمیل زینو مدرس دار الحدیث / مکه مکرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د الله تعالی حق په بندګانو باندې

سوال: مونږ الله څه د پاره پیدا کړي یو؟

جواب: مونږ الله دے د پاره پیدا کړي یو چه د هغه عبادت اوکړو. او ورسره هیڅ څیز نه شریکوو. دلیل په دے دا قول د الله تعالی دے." وما خلقت الجن والانس الا لیعبدون." زاریات ۵۶.

ترجمه: ما نه دي پیدا کړي جنات او انسانان مګر دے د پاره چه دوئ د الله عبادت اوکړي. او دا قول د رسول الله صلی الله علیه وسلم "حق الله علی العباد ان یعبدوه، ولا یشرکوا به شیئًا. متفق علیه.[۱]

ترجمه: حق د الله تعالی په بندګانو دادے چه دوئ د الله عبادت اوکړي او الله سره د هیڅ څیز شریک نه کړي.

سوال: عبادت څه څیز دے؟

جواب: عبادت یو داسے جامع نوم دے چه هغه شامل دے هر هغه قول وفعل ته چه د الله تعالی خوښه وي. لکه چغه، فریاد، مونځ، ذبح وغیره. الله تعالی فرمائي. "قل ان صلوتي ونسکي ومحیاي ومماتي لله رب العالمین. (الانعام ۱۶۲)

(۱) بخاري ۳۰۰/۴ ۸۸۲ - ۹۶۷ - ۹۲۷ ومسلم ۱/۴۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

اُوو ایه اے پیغمبره (صلی الله علیه وسلم) بیشکک ز ما مونځ، ز ما قربانی ز ما ژوند او ز مرګ ټول طریقے خاص الله لره دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چه "ما تقرب الیّ عبدی بشئ احبّ الی مما افترضته علیه (بخاری)"(۱)

زما بنده زما نزدیکت نه حاصلوی په هیڅ شیز چه هغه ما ته زیات محبوب وی د هغه شی نه چه کوم ما ده بانذیے فرض کرے دے.

سوال: د الله عبادت څنګه رنګک اوکړو؟

جواب: څرنګک چه مونږ ته الله تعالیٰ او رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم کړیدے. الله تعالیٰ فرمائی. یاایها الذین امنوا اطیعوا الله واطیعوا الرسول ولا تبطلوا اعمالکم. (سورة محمد ۳۳)

اے ایمان والاؤ اطاعت د الله اوکړئ او اطاعت د رسول الله صلی الله علیه وسلم اوکړئ. او خپل عملونه مه بربادوئ. او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی من عمل عملا لیس علیه امرنا فهو رد (مسلم)(۲)

چا چه څه عمل اوکړه او په هغه عمل زمونږ حکم طریقه نه وه نو هغه مقبول نه دے.

سوال: آیا د الله عبادت په اُمید او ویره پکار دے؟

جواب: او د الله عبادت په ویره او په اُمید پکار دے الله تعالیٰ د مؤمنانو صفت بیانوی. یدعون ربهم خوفا وطمعا (سجده ۱۷) بولی خپل رب لره په ویره او

(۱) ۲/۶۶۳ (۲) مسلم ۲/۷۷ بخاری ۲۸۷/ او اللفظ له

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اُمید۔

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی۔ اسأل الله الجنة واعوذ به من النار۔ (صحیح، ابوداؤد[1]) د الله نه جنت غوارم او الله پورے د اور نه پناه نیسم۔

سوال: په عبادت کښے احسان څه شی دے؟

جواب: احسان په عبادت کښے د الله تعالیٰ د حقوق خیال ساتل دی. الله تعالیٰ فرمائی۔ الذی یراک حین تقوم و تقلبک فی الساجدین (الشعراء ۲۱۹/۲۲۰)

ترجمه: هغه الله چه وینی تا کله چه ته (د شپے پاڅے) (او وینی اوړیدل) راګرځیدل ستا په سجده کونکو کښے۔

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی۔" الاحسان ان تعبد الله کانك تراه فان لم تکن تراه فانه یراك (مسلم[2]) احسان دا دے چه ته د الله تعالیٰ دا سے عبادت اوکړے ګویا که ته الله وینی او که ته نه وینی نو الله تا وینی۔

د توحید قسمونه او فائدے

سوال: الله تعالیٰ رسولان څه د پاره لیږلی دی؟

جواب: الله تعالیٰ رسولان خلقو له د الله بندګئ ته رابللو او د الله نه د شرک نفی کولو د پاره لیږلی دی۔ الله تعالیٰ فرمائی۔ ولقد بعثنا فی کل امة رسولا ان اعبدوا الله واجتنبوا الطاغوت۔ بیشك مونږ په هر امت رسولان لیږلی دی د دے د پاره چه خلقو ته دوائی د یو الله عبادت اوکړیے۔ او د طاغوت نه لرے شی۔

(۱) ۲/۱۳ بلفظ سل الله الجنة و نعوذ به من النار (۲) ۱/۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

طاغوت، هغه شیطان دے چه هغه د غیرالله عبادت ته مخلوق دعوت کوی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی. الانبیاء اخوة ودینهم واحد متفق علیه. (ترجمه) انبیاء سره رونړه دی او د دوئ دین یو دے.

سوال: توحید ربوبیت څه شے دے؟

جواب: الله تعالیٰ په خپل افعالو کښے یو کنړل. لکه پیدا کولو، تدبیر کولو وغیره کښے. الله تعالیٰ فرمائی. الحمد لله رب العالمین. فاتحه[۲]

ټول تعریف خاص هغه الله لره دے چه رب د ټولو مخلوقاتو دے.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی. انت رب السموٰت والارض متفق علیه.[۲]
اے الله ته رب د آسمانونو او د زمکو یې.

سوال: توحید الوهیت څه شے دے؟

جواب: په عباداتو کښے الله یو کنړل. لکه بلنه، او ذبح، او نذر الله تعالیٰ فرمائی. والٰهکم اله واحد لا اله الا هو الرحمٰن الرحیم (البقره ۱۶۳) حاجت پوره کوونکی مشکلات لری کوونکی نشته مګر یو الله چه د بخښونکے او مهربان دے.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی. فلیکن اول ما تدعوهم الیه. شهادة ان لا اله الا الله. متفق علیه.[۳] بایده دے چه وی دی اولنئ هغه خبره چه هغه ته را بلے شهادت په دے خبره چه نشته بل لائق د هیڅ قسم عبادت مګر یو الله. او په روایت د بخاری کښے دی چه: الی ان یوحدوا الله ورابلے دے خبرے ته چه یو او کنړئ الله لره.

سوال: په صفتونو او نومونو د الله کښے توحید څه دے؟

ـــــــ
له بخاری ۱/۴۹۰ مسلم ۲/۲۷۵ (۲) بخاری ۲/۹۳۹ مسلم ۱/۲۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواب: د الله تعالیٰ لره هغه صفات ثابتول چه په کوم الله په خپل کتاب کښې د خپل ځان صفت کړیدے. یا رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو صحیحو کښې د الله صفت بیان کړے دے. او دغه صفت به خپل حقیقی معنی باندے مبنی وی. بغیر د تاویل کولو او د تفویض[1] کولو او د مثال بیانولو او معطل پریښودونه لکه صفت د استویٰ په عرش شو، یا نزول د الله، یا لاس د الله وغیره. د هغه او صافونه چه د الله د شان سره چه څرنګ لایق وی.

الله تعالیٰ فرمائی. لیس کمثله شئ وهو السمیع البصیر (الشوریٰ ۱۱) نشته د (الله تعالیٰ) غوندی هیڅ شیزا و دے او رید ونکے لید ونکے دے.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی. ینزل الله فی کل لیلة الی السماء الدنیا. (رواه مسلم[1]) کوزیږی الله تعالیٰ هره شپه دے نږدے آسمان ته یعنی کوزیږی پداسی کوزید و سره چه هغه د الله د جلالت سره لایق وی او د مخلوق د کوزید و سره مشابه نوی.

سوال: الله چرته دے؟

جواب: په آسمان کښے عرش د پاسه دے. الله تعالیٰ فرمائی. الرحمٰن علی العرش استویٰ (طٰه ۵) رحمٰن هغه ذات دے چه قرار نیولے دے په عرش باندے.

استویٰ په معنیٰ د (علا وارتفع بخاری[2]) بلند او اوچت شو دے او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی ان الله کتب کتابا .... فهو عنده فوق العرش (متفق علیه[3])

---

[1] تفویض دینه وائی چه مونږ د دے لفظ په معنیٰ مراد باندے نه پوهیږو د دے لفظ معنیٰ الله ته سپارو و بیا ته وائے.

(۱) مسلم ۲/۲۵۸ بخاری ۱/۱۵۳ (۲) بخاری ۲/۱۱۰۳ عن ابی العالیة ومجاهد (۳) بخاری ۲/۱۲۷ مسلم ۲/۳۵۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی لیکلے دے یولک او هغه الله تخه دے دعرش د پاسه۔

سوال: آیا الله مونږ سره دے؟

جواب: او الله تعالی دلیدو اودو اوریدو او دعلم په لحاظ سره مونږ سره دے۔ الله تعالی فرمائی، قال لا تخافا انني معکما اسمع اری، طه ۴۹ او فرمایل مه ویریږئ زه تاسو سره یم اورم او وینم۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی۔ انکم تدعون سمیعا قریبا وهو معکم (رواه مسلم[1]) بیشکه تاسو رابللے او ویډنکے نږدے ذات دے تاسو سره (علم په لحاظ سره)۔

سوال: دتوحید څه فائدے دی؟

جواب: دتوحید فائدے دا دی چه موحد به په آخرت کښے دالله دعذاب نه په امن کښے وی. دنیا کښے به هدایت یافته وی او کنا هونه به ئے ورژیږی الله تعالی فرمائی: الذين امنوا ولم يلبسوا ايمانهم بظلم اولئك لهم الامن وهم مهتدون. (الانعام ۸۳)

کوم کسانو چه ایمان راوړیدے او خپل ایمانونه ئے په شرک نه دی ګډ کړی دغه کسان هم دوئ له امن دے او هم په هدایت دی۔ (دلته ظلم په معنی د شرک دے)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی۔ حق العباد علی الله ان لا یعذب من لا یشرک به شیئا. متفق علیه۔[2]

دبندګانو حق په الله باندے دادے چه عذاب ورنکړی هغه چاته چه شرک نه کوی الله سره د هیڅ څیز۔

(۱) ۲/۳۴۶ (۲) مرتخریجه فی ص۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عمل قبلیدو د پاره شرطونه

سوال: د عمل قبلیدو د پاره څه شرطونه دي؟

جواب :- الله تعالی په نزد باندې د عمل قبلیدو د پاره درے شرطونه دي.

(۱) په الله تعالی ایمان راوړل او د هغه توحید منل، الله تعالی فرمائی "ان الذین امنوا وعملوا الصلحات کانت لهم جنت الفردوس نزلا (الکهف ۱۰۹) بیشکه هغه کسان چه هغوی ایمان راوړے دے او عمل نیک ئے کړیدے هغوی د پاره دے جنت الفردوس میلمستیا. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چه" قل امنت بالله ثم استقم." (رواه مسلم) امنت بالله اووایه بیا دغه خبره ټینګه اونیسه.

(۲) اخلاص، اخلاص هغه عمل ته وائی چه هغه کښے ریا او شهرت مطلب نه وی. الله تعالی فرمائی. فاعبدالله مخلصا له الدین. (الزمر ۲) پس عبادت اوکه دالله په اسی حالت کښے چه خالص کوونکی وی هغه له دین.

(۳) چه عمل د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قول و فعل مطابق وی. الله تعالی فرمائی، وما اتاکم الرسول فخذوه وما نهکم عنه فانتهوا (الحشر ۸) کوم څیز چه تاسو ته پیغمبر درکړي هغه واخلئ (عمل پراوکړئ) او کوم څیز نه چه تاسو منع کړي د هغه نه تاسو منع شئ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی. من عمل عملا لیس علیه امرنا فهو رد (رواه مسلم) چا چه څه عمل اوکړو او په هغه باندے زمونږ قول و فعل نه وُو او زمونږ په طریقه نه وو نو هغه مردود دے.

(۲) مرتخریجه ص۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوئے شرک

سوال: د الله په نزد باندے لوئے ګناه څه شئ دے؟

جواب: د الله تعالیٰ په نزد باندے لوئے ګناه شرک دے دلیل پدے باندے د الله تعالیٰ قول دے. یا بنی لا تشرک بالله ان الشرک لظلم عظیم. لقمان[۱۳]

او کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس او شو چه کومه ګناه د ډیره لویه ده نو دے فرمائیل "ان تجعل الله ندا وهو خلقك (متفق علیه) چه دا چه الله سره یل شریک مه مقرروه حال دا دے چه ته ئے پیدا کړے.

سوال: شرک اکبر څه شئ دے؟

جواب: شرک اکبر د غیر الله عبادت کولو ته وائی مثلاً الله نه سیوا بل چا ته چغه وهل. یا مړو یا ژوندو ته چه غائب وی چغے وهل. الله تعالیٰ فرمائی. و اعبدو االله ولا تشرکوا به شیئا. (نساء ۳۶) عبادت دیو الله اوکړئ او دی الله سره مه شریکوئ هیڅ شئ. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی، من اکبر الکبائر الشرک بالله (بخاری) په ګناه کبیرو کښے ډیره لویه ګناه الله سره شرک کول دی.

سوال: په دے امت کښے شرک موجود دے؟

جواب: او په دے امت کښے شرک موجود دے الله تعالیٰ فرمائی. و مایؤمن اکثرهم بالله الا وهم مشرکون (یوسف[۱۰۶]) زیات د دوی نه ایمان نه راوړی په الله باندے مګر دوئ سره د ایمان راوړونه مشرکان دی.

(۱) ۲/۶۴۳۰ و مسلم ۱/۶۳ (۲) بخاری ۱/۲۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی. لا تقوم الساعة حتی تلحق قبائل من امتی بالمشرکین وحتی تعبد الاوثان (صحیح ترمذی[1]) قیامت به نه قایمه کیږی ترڅو چه زما امت قبائل مشرکانو سره پیوست شی او ترڅو چه بُتانو عبادت اوکړے شی.

سوال: مړو ته یا غائبو ږوندو ته د مصیبت په وخت کښے چغے د هلو څه حکم دے؟

جواب: مړو یا غائبو ږوندو ته چغے وهل د لوئے شرک نه دے الله تعالیٰ فرمائی. ولا تدع من دون الله ما لا ینفعك ولا یضرك فان فعلت فانك اذا من الظالمین (یونس ۱۰۶) الله نه سیوا داسے شئ ته چغه مه وهه چه هغه نه درته نفع رسولے شی او نه ضرر. که دا کار دې اوکړو نو ته به په دغه وخت کښے د ظالمانو نه شی. یعنی د مشرکانو نه به شی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چه" من مات وهو یدعو من دون الله ندا دخل النار (رواه البخاری) څوک چه مړ شو په اسی حالت کښے چه دۀ الله نه سیوا بل چا ته د مصیبت په وخت کښے فریاد کولو دے به جهنم کښے داخلیږی.

سوال: چغه او فریاد عبادت دے؟

جواب: اے چغه او فریاد کول عبادت دے الله تعالیٰ فرمائی و قال ربکم ادعونی استجب لکم، ان الذین یستکبرون عن عبادتی سید خلون جهنم داخرین. (الغافر ۶۳)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی، الدعاء هو العبادة ترمذی قال

(۱) ۲/۴۵ (۲) ۲/۷۴۶ ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسن صحیح[۱]۔ عبادت هم دغه چخه فریاد دے۔

سوال: مړي چغه اوري۔؟

جواب: نه مړي چغے نه آوري۔ الله تعالیٰ فرمائی انك لا تسمع الموتی۔ نمل ۸۰ ته مړو ته نه شې اورولے۔ (۲) وما انت بمسمع من فی القبور (فاطر ۲۲) نه شے ته اورولې هغه چاته چه دوئ په قبرونو کښے دی۔

د شرك اکبر اقسام

سوال: مړو ته او غائبو ته فریاد کول جائز دی؟

جواب: نه الله تعالیٰ فرمائی، والذین یدعون من دون الله لا یخلقون شیئًا وهم یخلقون اموات غیر احیاء وما یشعرون ایان یبعثون (النحل ۲۱) کوم کسانو له چه رابولی سوا د الله تعالیٰ نه هغوئ هیڅ څیز نه شی پیدا کولے حال دا دے چه دوئ پیدا کړی شوی دی، دوئ مړهٔ دی ژوندی نهٔ دی۔ دوئ ته دا هم پته نشته چه دوئ به کله راپورته کولے شی۔

(۲) اذ تستغیثون ربکم فاستجاب لکم (الانفال ۹) کله چه تاسو خپل رب ته فریاد کولو نو قبول کړه تاسو له۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی یا حي یا قیوم برحمتك استغیث (حسن رواه الترمذی)[۲]

اے جوندے او قیوم ذاته ستا د رحمت په واسطه تاته فریاد کوم۔

سوال: الله نه سوا بل چانه مدد غوښتل جائز دی؟

جواب: نه، الله تعالیٰ فرمائی ایاك نعبد وایاك نستعین الفاتحه خاص ستا عبادت کوو او خاص له تانه مدد غواړو۔

(۱) ۲/۱۳۷ (۲) لا ۲/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی، اذا سألت فاسئل الله واذا استعنت فاستعن بالله (ترمذی وقال حسن صحیح[1]) کله چه سوال کوی نو د الله تعالی نه سوال کوه. او کله چه امداد غواړی نو د الله تعالی نه مدد غواړه

سوال: آیا د ژوندو نه امداد غوښتې شو؟

جواب: او په هغه شیو نو کښې چه هغوی په هغه قدرت لری ځکه چه الله تعالی فرمائی، وتعاونوا علی البر والتقوی (المائدة ۳) یو بل سره مدد او کړئ په نیکئ او په تقوی.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی، والله فی عون العبد ما کان العبد فی عون اخیه، رواه مسلم[2]. الله تعالی د بنده په مدد کښې وی ترڅو چه بنده د خپل رور په مدد کښې وی.

سوال: الله نه سوا د بل چا په نوم نذر روا دی؟

جواب: د الله نه سوا د بل چا په نوم نذر (منخته) نه دے روا. الله تعالی فرمائی، رب انی نذرت لك ما فی بطنی محررا. (آل عمران ۳۰)

اے ربه ما نذر کړو تا د پاره څه چه زما په خیټه کښے دی آزاد کړے شوے. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی. من نذر ان یطیع الله فلیطعه ومن نذر ان یعصیه فلا یعصه (رواه البخاری[3]) چا چه منخته اوکړه چه زه به د الله حکم منم نو فرمان برداری دی اوکړی او که چا نذر اوکړه چه زه به د الله نافرمانی کوم نو نافرمانی دِ نهٔ کوی.

سوال: د الله نه سوا د بل چا په نامه حلاله کول جائز دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواب: نه د الله نه سِوا د بل چا په نامه حلاله کول جائز نه دے الله تعالیٰ فرمائی. فصل لربك وانحر (الکوثر ۲) پس مونځ اوکړه خاص خپل رب د پاره او حلاله اوکړه. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی. " لعن الله من ذبح لغیر الله (رواه مسلم)[1] د الله تعالیٰ لعنت دے په هغه چا چه هغه د الله د نلے نه سوا د بل چا په نوم حلاله کوی.

سوال: قبرونو والا و تعظیم د پاره د قبر نه طواف جائز دے؟

جواب: نه طواف به صرف د خانه کعبے کوی. الله تعالیٰ فرمائی وليطوفوا بالبيت العتيق، الحج ۳۰ - باید چه طواف اوکړی د زوړ کور (چه خانه کعبه ده) او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی. من طاف بالبيت سبعا وصلى ركعتين، كان كعتق رقبة، صحیح رواه ابن ماجه[2] چا چه اووه کرد شرطواف د بیت الله اوکړو او دوه رکعته ئے مونځ اوکړو نو د ومره ثواب ئے اُوشو کله چه یو غلام آزاد کړے وی.

سوال: د جادو د څښن حکم دے؟

جواب: جادو کفر دے الله تعالیٰ فرمائی. لكن الشياطين كفروا يعلمون الناس السحر، البقره ۹۶ (لیکن شیطانان کافران شویدی چه ښائی خلقو ته سحر د جادو)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی اجتنبوا السبع الموبقات الشرك بالله والسحر (رواه مسلم)[3] ځان او ساتئ د اووه هلاکونکو نه چه یو یکښے الله سره شریکول دی بل جادو کول دی.

سوال: آیا د نجومی او د فال گو خبرو باندے تصدیق اوکړو چه غیبیه خبرے دی؟

(۱) ۲/۱۶۱ (۲) ۲۱۸ (۳) ۱/۶۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواب: نه ددوی په تصدیق نه کوؤ الله فرمائی قل لا یعلم من فی السموت والارض الغیب الا الله (النمل ۶۵) اُودا یه چه نه پوهیږی په غیبو سوا د الله تعالی نه هغه څوک چه په آسمانونو کښې دی او هغه څوک چه په زمکه کښې دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی. من اتی عرافا او کاهنا فصدقه بما یقول فقد کفر بما انزل علی محمد (صحیح رواه احمد)

څوک چه نجومی یا فال کرته ورشی او ده هغه په وینا ده کښې تصدیق اوکړو نو ده کفر اوکړه په هغه چه نازل کړې شوید ے په محمد صلی الله علیه وآله وسلم باندے.

سوال: په غیبو څوک پوهیږی؟

جواب: نه په غیبو څوک نه پوهیږی هاں که الله چالره په غیبو خبر کښې نو هغه بیا غیب پاتے نه شی. الله تعالی فرمائی عالم الغیب فلا یظهر علی غیبه احدا الا من ارتضی من رسول (الجن ۲۶، ۲۷) پوهیدونکے په غیبو دے نو ده خپل غیبو نه څوک نه خبره وی مګر چالره چه غوره کښې د رسول نه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی. لا یعلم الغیب الا الله. (حسن رواه الطبرانی)

نه پوهیږی په غیبو یکی یو الله نه بغیر هیڅوک.

سوال: آیا جوړوالی او شفاء پاره څه کړے په کوته یا تار په غاړه کښې واچوو؟

جواب: نه بالکل نه. الله تعالی فرمائی. ان یمسسک الله بضر فلا کاشف له الا هو. (سورة الانعام ۱۷ یونس ۱۰۷) که الله در ته ضرر اورسوی نو د هغې لرې کوونکے نشته سوا د ده غه الله نه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی "اما انها لا تزیدک الا وهنا انبذها

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنك فانك لومت ما افلحت ابدا (صحیح رواه الحاکم وصححه ووافقه الذهبي)

خبردار دا (تارکړي وغیره) نه زیاتوی تالره سواد سپک والی نه نود غه

شی ځان نه اُغور زوه ځکه چه ته پدی حال مړشی نو هیڅکله به ته خلاصی

او نه موهی.

سوال: آیا کنځکه یا غمی وغیره په غاړه اچولی شو د مرض او نظر لری کولو دپاره؟

جواب: نه الله تعالی فرمائی. وان یمسسک الله بضر فلا کاشف له الا هو،

(الانعام، یونس[۱]) که الله درته څه ضرر او رسوی نو د هغه لری کوونکی څوک

نشته سوا د د غه الله نه. او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی "من علق تمیمة فقد

اشرک (صحیح رواه احمد[۲]) چا چه تمیمه (تعویذ) زوړند کړه نو بیشک هغه

شرک اوکړه. تمیمه، کنځکه، غمی، تعویذ، تار، کړی وغیره ته وائی چه د نظر

ماتی دپاره خلق معصومانو ته په غاړه کوی.

سوال: د اسلام نه خلاف قانون باندی عمل کولو څه حکم دی؟

جواب: د اسلام نه خلاف قانون باندی عمل کول یا عمل جائز گنړل

یا د هغه قانون ښه والی عقیده لرل کفر دی. الله تعالی فرمائی ومن لم یحکم

بما انزل الله فاولئك هم الکافرون (المائدة[۳])

څوک چه نیصله او نکړی په هغه چه الله نازل کړی دی نو دغه کسان

هم دوی کافر دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی "وما لم تحکم ائمتهم بکتاب

الله، ویتخیروا مما انزل الله، الا جعل الله بأسهم بینهم (حسن رواه ابن ماجه[۱])

ترڅو چه د دوی حکمرانان نیصله په کتاب الله او نکړی او هغه احکام او قوانین

چه الله نازل کړی دی هغه غوره نه کوی نو الله به د دوی په مینځ کښی جنګ و جدل پیدا کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال: د شیطان دا سوال چه الله چا پیدا کړه څرنګ ردکړه ؟

جواب: کله چه یو ستاسے ته شیطان وسوسه ددے سوال واچوی نو اعوذ بالله دِ اُووائی ۔ الله تعالیٰ فرمائی واما ینزغنك من الشیطان نزغ فاستعذ بالله انه هو السمیع العلیم ۔ (فصلت ۳۶) که وسوسه واچوی تاته شیطان څه وسوسه نو پناه او غواړه الله پورے او ریدو نکے پوهیدو نکے دے ۔

او رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته د شیطان وسوسه او مکرختمولو دپاره تعلیم راکړے دے چه مونږ دا دُعا اُووایو ۔ امنت بالله ورسله ، الله احد ، الله الصمد ، لم یلد ولم یولد ولم یکن له کفوا احد (مختصراً ما ورد فی البخاری ومسلم واحمد وابو داؤد)

ایمان مې راوړیدے په الله او په رسول الله صلی الله علیه وسلم الله یو دے ، الله بے نیاز دے نه زګیدلے دے او نه زګولے شوے دے او ده هیڅوک هم سیال نشته ۔

سوال: د شرک اکبر څه نقصان دے ؟

جواب: شرک اکبر سبب دے دپاره د همیش والے د انسان په جهنم کښے ، الله تعالیٰ فرمائی " انه من یشرك بالله فقد حرم الله علیه الجنة ومأوٰه النار وما للظالمین من انصار (المائدة ۷۲)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی : من لقی الله یشرك به شیئًا دخل النار (مسلم[1]) څوک چه الله سره مخامخ شو په داسی حال کښے چه الله سره څه شئ شریک کولو نو دے جهنم ته داخل شو ۔

سوال: د شرک سره کم عمل فائده رسوی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواب: د شرک سره هیڅ عمل هم فائده نهٔ رسوی. الله تعالیٰ فرمائی. و لو اشرکوا لحبط عنهم ما کانوا یعملون ط (الانعام ۸۹) که دوی انبیاؤ شرک کړے وے نو ضرور به د دوی نه د دوی عملونه برباد شوے وے.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی قال الله تعالیٰ انا اغنی الشرکاء عن الشرک من عمل عملا اشرک معی فیه غیری، ترکته وشرکه (رواه مسلم)[1]

الله تعالیٰ فرمائی زهٔ د ټولو نه بے پرواه د حصه دارانو نه یم د حصے نه چاچه عمل اوکړو، یو عمل او په هغه کښے ما سره بل څوک حصه دار کړنو زهٔ به دهٔ لره دهٔ حصه سره پریدم.

وړوکے شرک

سوال: وړوکے شرک څهٔ شئ دے؟

جواب: وړوکے شرک ریا دے، الله تعالیٰ فرمائی. فمن کان یرجوا لقاء ربه فلیعمل عملا صالحا ولا یشرک بعبادة ربه احدا (الکهف ۱۱۰)

څوک چه د خپل رب سره د ملاؤ کیدو امید لری نو دے د عمل اوکړی نیک او د خپل رب عبادت کښے دے بل هیڅوک نهٔ شریکوی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی " ان اخوف ما اخاف علیکم الشرک الاصغر، الریاء (صحیح رواه احمد")[2] بیشکه خوفناک ترین د هغه شی نه چه زهٔ ویره کوم په تا سو باندے هغه وړوکے شرک دے. چه هغه ریا دے.

او د شرک اصغر څخه دا هم دی نه حلفول دا وینا ده چه که الله او فلانے نو وے یا که د الله او ستا خوښه وی. ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی "لا تقولوا

(۱) ۲/۲۱۱ (۲) ۵/۳۲۸ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشاء الله و شاء فلان ولکن قولوا ما شاء الله ثم شاء فلان (صحیح رواه ابو داؤد)[1] که د الله او د فلانے خوښه وی مه وایئ لیکن داسی ووایئ چه که د الله خوښه وی او بیا د فلانی خوښه وی.

سوال: د الله د نامه نه سوا د بل چا په نوم قسم کول جائز دی؟

جواب: د الله نامه نه سوا د بل چا په نوم قسم کول جائز نه دی الله تعالیٰ فرمائی. قل بلیٰ وربی لتبعثن، التغابن، او وایه او زما دی په خپل رب قسم وی خامخا به راپورته کولے کیږئے.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی. من حلف بغیر الله فقد اشرک (صحیح رواه احمد)[2] چا چه د الله د نامے نه سوا د بل چا په نوم قسم اوکړه نو ده شرک اوکړه، په بل حدیث کښے وائی. من کان حالفا فلیحلف بالله او لیصمت متفق علیه[3]. څوک چه قسم کوونکے وی نو د الله په نوم دی قسم اوکړی. یا دِ چپ شی،

وسیله او د شفاعت غوښتنه

سوال: الله ته څه شئ وسیله کو؟

جواب: د وسیلے بعض اقسام جائز دی بعض ناجائز دی؟

(۱) کومه وسیله چه جائز او مطلب دے هغه د الله نومونه او صفتونه او خپل نیک عملونه وسیله کول دی. الله تعالیٰ فرمائی.

ولله الاسماء الحسنیٰ فادعوه بها (الاعراف ۱۸۰) د الله تعالیٰ ښه ښه نومونه دی الله په دغه نومونو را اوبلئ. الله تعالیٰ فرمائی.

(۱) ۲/۳۲۲ (۳) بخاری ۲/۹۸۳ مسلم ۲/۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاایها الذین امنوا اتقوا الله وابتغوا الیه الوسیلة (المائدة ۳۵) اے ایمان والاو د الله نه اُووېرېږئ اودے الله ته وسیله اُولټوئ . امام ابن کثیر[۱] وائی چه تاده وائی دد ے آیت معنی داده چه الله ته نږدے شی په فرمانبرداری او په دا سے عملونو سره چه الله پرے راضی کیږی .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی، اسالك بکل اسم هو لك (صحیح رواه احمد[۲]) زهٔ د تا نه سوال کوم په هرهغه نام چه هغه تالره وی . او د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا هغه صحابی ته چه هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په جنت کښے د ملګرتیا سوال کړے وو . اعنی علی نفسك بکثرة السجود (رواه مسلم[۳]) زما مدد او کړه په دغه سوال په ډیر سجده کولو سره . یعنی ما ته سره چه مونځ نیک عمل دے .

او د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم او نیکانو بندګانو سره محبت هم الله ته وسیله کولے شی . دا محبت نیک عمل دے هم د رنګه د نیک عمل وسیله کیدو دپاره دلیل د هغه درېو کسانو غار والا و قصه هم دے چه هغوئ نه هر یو خپل نیک عمل الله ته وسیله کړے وُو .

(۲) د وسیلے ناجائزه طریقه :- مړو ته چغے وهل او د هغوئ نه خپل حاجتونه غوښتل دی لکه چه نن صبا خلق ئے کوی . دا د بر لوئ شرك دے الله تعالی فرمائی . ولا تدع من دون الله ما لا ینفعك ولا یضرك فان فعلت فانك اذا من الظالمین (یونس ۱۰۶) چغه مه وهه سوا د الله نه بل دا سی شئ ته چه نه تا ته نفع رسولے شی او نه ضرر که تا چغه اُووهله نو ته به د ظالمانو نه یئے .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳) په برکت او په طفيل د رسول الله صلى الله عليه وسلم وسيله کول، لکه دا سې او وائی چه اے الله په برکت د رسول الله صلى الله عليه وسلم زما کار اوکړے نو دا بدعت دے. ځکه چه دا سې دُعا صحابه ؤ نۀ ده کړے. بل له دے وجے نه چه عمر رضى الله عنه د الله نه دُعا غوښتو د پاره عباس رضی الله عنه صاحب وړاندے کړه چه ژوندے وو. او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مرګ نه روستو رسول الله صلى الله عليه وسلم ئے وسيله نه کړه. دا وسيله کله شرک حد ته اورسيږی، په دا شان چه خلق دا عقيده ساتی چه الله د پاره هم د واسطو او ذريعو ضرورت شته لکه يو باد شاه او حاکم ته د رسيدو د پاره واسطو او ذريعو ته ضرورت دے. دا ځکه شرک دے چه د لته الله تعالىٰ مخلوقاتو سره مشابه کړه.

که د دے مسئلے زيات تفصيل او زيات دلائلو ته ضرورت وی نو د علامه البانی صاحب کتاب "التوسل واحكامه وانواعه" ته رجوع اوکړئ.

سوال: الله نه غوښتنه کښے د بنده واسطے ته ضرورت شته دے؟

جواب: نه د الله تعالىٰ نه غوښتو کښے واسطو او ذريعو ته ضرورت نشته. الله تعالىٰ وائی واذا سألك عبادی عنی فانی قريب (البقرة ۱۸۶) کله چه تا نه تپوس اوکړی زما بندګان نو زۀ ډير نزدے يم دا وريدو ليدو او علم په لحاظ سره. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائی، انكم تدعون سميعا قريبا وهو معكم (مسلم) (۱) تاسو را بللی هغه ذات چه هغه اوريدونکے نزدے دے او د ے تاسو سره دے د علم په لحاظ سره.

سوال: آيا د ژوندو نه دُعا غوښتے شی؟

جواب: او د ژوندو نه دُعا غوښتے شی او د مړو نه نه. په دا سے شان چه

(۱) ۲/۳۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو جوندی نیک سړی ته لاړشی او ورته اووائی چه ما دپاره دُعا اوکړه او مړو ته داسے نه شی وئیلے۔ الله تعالیٰ وائی "واستغفر لذنبک وللمؤمنین والمؤمنات" (سورۃ محمد[۱۹]) ته د خپل گناه او د مؤمنانو او د مؤمنو ښځو دپاره معافی اوغواړه۔ او په صحیح حدیث د ترمذی[(۱)] کښے دی چه یو ړوند سړے رسول الله صلی الله علیه وسلم له راغے اووے وئیل چه "ادع الله ان یعافینی" ما دپاره دُعا اوکړه چه ما الله تعالیٰ جوړ کړي۔

سوال: د الله تعالیٰ او د بندګانو په مینځ کښے د رسول الله صلی الله علیه وسلم څه واسطه ده؟

جواب: د رسول الله صلی الله علیه وسلم واسطه صرف د تبلیغ ده الله تعالیٰ فرمائی "یا ایها الرسول بلغ ما انزل الیک من ربک" (المائدۃ[۶۷]) اے رسوله اورسوه هغه څه نازل کړے شی تا ته د رب ستا نه۔

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی "اللهم اشهد" اے الله ته گواه اوسه، کله چه صحابو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اوفرمائیل، چه مونږ ګواهی کوو چه ستا رسالت اُورسوله (مسلم)[(۲)]

سوال: د پیغمبر صلی الله علیه وسلم شفاعت د چا نه غواړو؟

جواب: د رسول الله صلی الله علیه وسلم شفاعت د الله تعالیٰ نه غواړے الله تعالیٰ فرمائی "قل لله الشفاعة جمیعا" (الزمر[۴۴]) اُووایه چه شفاعت ټول الله لره دے۔ او رسول الله صلی الله علیه وسلم یو صحابی ته دا ښودلی وُو چه هغه داسے اووائی۔ "اللهم شفعه فیّ" (حسن صحیح رواه الترمذی)[(۳)] اے الله زما په باره کښے د رسول الله صلی الله علیه وسلم شفاعت قبول کړې. او

(۱–۳) ۲/۱۹۷ (۲) ۱/۳۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي "اني اختبأت دعوتي شفاعة يوم القيامة من مات من امتي لا يشرك بالله شيئا (رواه مسلم)[1] ماخپله دعا پټه ساتلې ده د پاره د شفاعت په ورځ د قيامت د هغه چا د پاره چه هغه مړ شوې وي زما د امت نه. پداسې حال کښې چه الله سره هيڅ څيز نه شريکوي.

سوال: آيا د چوندونه شفاعت غوښتل جائزدے؟

جواب: او د چوندو نه شفاعت غوښتل جائزدے پداسے شيونو کښے چه د هغوئ په طاقت او قدرت کښے وي. الله تعالی فرمائي "من يشفع شفاعة حسنة يكن له نصيب منها ومن يشفع شفاعة سيئة يكن له كفل منها (النساء ۸۵)" چا چه سفارش اوکړو نيکه سفارش نو ده د پاره به د هغه حصه د نيکئ وي او که چا سفارش اوکړو بد سفارش نو ده د پاره حصه وي د بدئ نه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي "اشفعوا تؤجروا (صحيح ابوداؤد)[2] سفارش اوکړئ او د الله نه اجرو ثواب حاصل کړئ.

سوال: آيا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په صفت کښے زياتي کول شي؟

جواب: نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په صفت کښے زياتي کول نه دي پکار. الله تعالی فرمائي. قل انما انا بشر مثلكم يوحى الي انما الهكم اله واحد (الكهف)"

او وايه چه بيشکه زه ستاسو غوندے بشريم خو دا فرق دے چه ماته وحي کيږي چه خبره دا ده بيشکه چه ستاسو حاجت روا مشکل کشا صرف يو الله دے.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي چه "لا تطروني كما اطرت النصارى عيسى ابن مريم، فانما انا عبد فقولوا عبد الله ورسوله (رواه البخاري)[3]

(۱) ۱/۱۱۳ (۲) بخاري ۲/۸۹۱ و ۲/۹۲ (۳) ۱/۴۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په صفت کښې مبالغه مه کوئ لکه څرنګ چه نصارئ او د عیسی ابن مریمؑ په صفت کښې مبالغه کړې ده. بیشکه زه بنده یم نو تاسو د الله بنده او د الله رسول راته اُووایئ.

جهاد، دوستي او فیصله

سوال: د الله په لار کښې د جهاد څه حکم دے؟

جواب: جهاد په مال او په ځان او په ژبه، فرض دے. الله تعالیٰ فرمائی

اُنفروا خفافا وثقالا وجاهدوا بأموالکم وانفسکم فی سبیل الله (التوبه[۴])

لاړشئ اُوځئ سپک او درانه او جهاد اوکړئ په لاره د الله کښې په خپلو مالونو او په ځانونو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی، جاهدوا المشرکین بأموالکم وانفسکم والسنتکم (صحیح رواه ابوداؤد[۱]) د مشرکانو سره په خپل مال او خپل ځانونو او د خپلو ژبو سره جهاد اوکړئ.

سوال: دوستی څه ته وائی؟

جواب: دوستی د غه محبت او مودت ته وائی. الله تعالیٰ فرمائی والمؤمنون والمؤمنات بعضهم اولیاء بعض. (التوبه) مؤمنان سړی او مؤمنانې ښځې بعض د بعضو دوستان دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی. المؤمن للمؤمن کالبنیان یشد بعضه بعضا (رواه مسلم[۲])

مؤمن د مؤمن دپاره په شان د دیوال دے. چه یو بل ته په بله باندے مضبوطه کیږی دی.

(۱) ۳۳۹/۱ (۲) بخاری ۳۳۱/۱ مسلم ۳۲۱/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال: آیا کفار و سره دوستي او د هغوئ مدد جائز دے؟

جواب: نه د کفار و دوستي او د هغوئ مدد جائز نه دے الله تعالی فرمائي

ومن يتولهم منكم فانه منهم (المائدة ۵۱) څوک چه تاسو نه د وئ سره دوستي

اوکړي نو په تحقیق سره هغه د وئ نه دے۔

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي چه "ان آل بني فلان ليسوا باوليائي.

(صحيح رواه احمد)[1] بيشكه آل د بني فلان (چه زما رشته داران دی) زما دوستان نه دی

(ځکه چه کافران دی)۔

سوال: ولي څوک دے؟

جواب: پرهيزګار مؤمن ولي دے الله تعالی فرمائي،

"الا ان اولياء الله لاخوف عليهم ولاهم يحزنون، الذين امنوا وكانوا يتقون" يونس ۶۲-۶۳

خبردار بیشکه د الله تعالی دوستان نشته دے ویره په دوئ باندے او نه دوئ

غمجن کیدونکي دي، دا و یان هغه کسان دي چه ایمان ئے راوړیدے، او

وُو پرهیزګاره۔

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي "انما ولي الله وصالح المؤمنين (صحيح

رواه احمد)[2] بیشکه زما دوست الله دے او نیک مؤمنان دي.

سوال: مسلمانان به په څه فیصله کوي؟

جواب: مسلمانان به په قرآن او په صحیح احادیثو فیصله کوي. الله تعالی

فرمائي "وان احكم بما انزل الله". او حکم اوکه په هغه چه کم الله نازل کړے

دے. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي، عالم الغيب والشهادة انت تحكم

بين عبادك (رواه مسلم)[3]

(۱-۲) ۲/۲۰۳ (۳) ۱/۲۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے پوهيدونکيه په پته اوځرګنده ته نیصله کوے په مابين د بندګانو خپلو کښے۔

په قرآن او حديث باندے عمل

سوال: الله تعالی قرآن څهٔ دپاره نازل کړے دے؟

جواب: الله تعالی قرآن عمل دپاره نازل کړے دے۔ الله تعالی فرمائی اتبعوا ما انزل اليکم من ربکم (الاعراف[۲]) تابعداری اوکړئ د هغه څيز چه کوم تاسو ته نازل کړے شوے دے ستاسو د رب د طرفه۔

او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائی، اقرؤا القرآن ولا تأکلوا به۔ (صحيح رواه احمد[۱]) قرآن کريم لولئ او عمل پرے کوئ او خوراک ورباندے مهٔ کوئ۔

سوال: په صحيح احاديثو باندے عمل کول څنګه دی؟

جواب: په احاديث صحيحو باندے عمل کول فرض دے الله تعالی فرمائی، وما اتاکم الرسول فخذوه وما نهاکم عنه فانتهوا (الحشر) کم حکم چه درته پيغمبر درکړي نو هغه واخلئ او چه د کم څيز نه منع کړے نو ترے نه منع شي۔

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائی، عليکم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين تمسکوا بها (صحيح رواه احمد[۲]) لازم اونيسئ تاسو زما سنت او لازم اونيسئ د خلفاء الراشدينو په سنت چه هغوی هدايت يافته دی په هغه باندے منګلے ښخ کړئ۔

سوال: آيا په قرآن و احاديثو نه بے پرواه کيدے شو؟

(۲) ۱۲۶، ۱۲۷/۴۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواب: نه په قرآن کریم د احادیثو نه نشي بې پرواه کېدے. الله تعالیٰ فرمائي
وانزلنا الیك الذکر لتبین للناس ما نزل الیهم (النحل ۴۴) مونږ تا ته قرآن
نازل کړو د دې دپاره د دے چه ته خلقو ته بیان کړې هغه څه چه د دے خلقو
ته نازل کړے شوے ده.
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي "الا اني اوتیت القرآن ومثله معه."
(صحیح رواه ابوداؤد[1]) خبردار ما ته قرآن راکړے شوے دے او د دے قرآن غوندے
نور قرآن سره (چه حدیث دی)

سوال: آیا د الله او د رسول په خبرو د بل چا خبره وړاندے کړو؟

جواب: د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خبرو د بل چا خبره به نه
وړاندے کوو. الله تعالیٰ فرمائي "یا ایها الذین آمنوا لا تقدموا بین یدی الله
ورسوله (الحجرات ۱) اے ایمان والاؤ مه وړاندے کیږئ د الله او د الله تعالیٰ د رسول
نه او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي "لا طاعة لمخلوق في معصیة الخالق"
(صحیح رواه الطبراني[2]) د مخلوق فرمانبرداري نشته دے د خالق په نافرمانئ
کښے.
ابن عباس رض فرمائي، اخشی ان تنزل علیکم حجارة من السماء اقول لکم: قال
رسول الله صلی الله علیه وسلم وتقولون: قال ابوبکر وعمر[3] زه ویریږم
په تاسو چه چرته درباندے کاڼي د آسمان نه اونه ورېږي. زه تاسو
ته وایم. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي او تاسو وایئ چه
ابوبکر او عمر وئیلي دي.

سوال: کله چه مونږ په یوه مسئله کښے اختلاف راشي نو مونږ څه وکړو؟

(۱) ۴۶۰۴ (۲) ۲/۲۷۶ (۳) زاد رفع الملام ۳۲ فتح المجید ۳۸۳ / الدین الخالص ۲۱۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواب: قرآن کریم او احادیثو صحیحو ته رجوع او کړئ. الله تعالیٰ فرمائی: فان تنازعتم فی شئ فردوه الی الله والرسول ان کنتم تؤمنون بالله والیوم الاخر ذلک خیر واحسن تأویلا (النساء ۵۹)

کله چه تاسو اختلاف او کړئ په یو شئ کښې نو هغه اختلاف د الله کتاب او رسول صلی الله علیه وسلم حدیث ته ور اندې کړئ. کله چې تاسو چه ایمان مو راوړیدې په الله او په ورځ د آخرت د اغوره او ښه دے د انجام په لحاظ سره.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی: علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین تمسکوا بها. (صحیح رواه احمد)[1] لازم او نیسئ تاسو زما سنت او د خلفاء الراشدینو سنت په دے منګولې ټینګ کړئ.

سوال: د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره به محبت څرنګ کوو؟

جواب: د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره محبت د هغوئ په فرمانبردارئ او د هغوئ د حکم تابعدارئ سره به کوو. الله تعالیٰ فرمائی: قل ان کنتم تحبون الله فاتبعونی یحببکم الله ویغفرلکم ذنوبکم والله غفور رحیم (آل عمران ۳۱) او وایه اے زما حبیبه که چیرې تاسو چه محبت کوئ الله سره نو زما تابعدارئ او کړئ نو محبت به او کړی تاسو سره الله تعالیٰ او تاسو ګناهونه به او بخښی او الله بخښونکے مهربان دے.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی: لا یؤمن احدکم حتی اکون احب الیه من والده وولده والناس اجمعین (متفق علیه)[2] مؤمن نه شی کیدے هیڅوک ستاسو نه ترڅو چه زه ده ته زیات محبوب نه یم د اولاد او د پلار او د ټولو خلقو نه.

(۱) مرتخریجه فی ص ۲۵ (۲) بخاری ۱/۷ مسلم ۱/۴۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال: آیا عمل پرید و او په قدر عمل اوکړو؟

جواب: نه عمل مه پرېږدئ ځکه چه الله تعالیٰ فرمائی "فاما من اعطی واتقی وصدق بالحسنیٰ فسنیسره للیسریٰ (اللیل). پس چا چه ورکړه او د الله نه او ویریدهٔ. او د نیکئ تصدیق اوکړلو نو زر دے چه مونږ آسان کوو د ده له آسانی ته.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی اعملوا فکل میسر لما خلق (رواه البخاری ومسلم)[1] عمل کوئ هر یو ته اسان کړے شوے دے هغه چه کم دپاره دے پیدا کړے شوے دے.

سُنّت او بدعت

سوال: آیا دین کښے بدعت حسنه شته؟

جواب: نه په دین کښے بدعت حسنه نشته، الله تعالیٰ فرمائی چه "الیوم اکملت لکم دینکم واتممت علیکم نعمتی ورضیت لکم الاسلام دینا" (المائده[۳]) نن ورځ ما پوره کړه تاسو د پاره ستاسو دین او ما پوره کړه په تاسو نعمت زما، غوره مِ کړه تاسو د پاره دین اسلام.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی "کل بدعة ضلالة وکل ضلالة فی النار". (صحیح رواه احمد) هر بدعت ګمراهی ده او هر ګمراهی به په اور کښے وی.

سوال: په دین کښے بدعت څه شئ دے؟

جواب: په دین کښے زیاتی یا کمی ځان نه کولو ته بدعت وائی. الله تعالیٰ فرمائی "ام لهم شرکاء شرعوا لهم من الذین مالم یأذن به الله" (الشوریٰ[۲۱]) آیا دوئ د پاره شریکان دی چه ایجاد کړی دی دوئ د پاره داسے دین چه الله د هغے اجازت

(۱) ۸ ۳ ۷/ ۲ (۲) ۱۲۷/ ۴ (۳) الا الجملة الاخیرة

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه دے کړے . او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي: من احدث في امرنا هذا ما ليس منه فهو رد . متفق عليه : چا چه زمونږ په دے دين کښے داسے شئ پيدا کړه چه دے دين نه نه وي نو هغه مردود دے .

سوال : آيا په دين کښے سنت حسنه شته ؟

جواب : او په اسلام کښے سُنت حسنه شته دے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي: من سن في الاسلام سنة حسنة ، فله اجرها واجر من عمل بها من بعده من غير ان ينقص من اجورهم شئ (رواه البخاري) چا چه ظاهره کړه په اسلام کښے يوه بنه طريقه (چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابته وي) نو دهٔ دپاره د هغهٔ اجر دے او د هغه چا اجر دے چه چا پرے عمل او کړو پس له ظاهر کولو دهٔ نه بغير د کمولو د اجرو نو د دوئ نه .

سوال : مسلمانان به په دشمنانو د اسلام کله برے مومندے شي ؟

جواب : کله چه مسلمانان رجوع او کړي په ځان او په امت مسلمه باندے د الله کتاب او د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم احاديثو تطبيق کولو ته . او د الله وحدت په خلقو کښے خورول شروع کړي او د شرک او بدعت نه ځان وساتي او د خپل طاقت مطابق د دشمن مقابلے دپاره د وخت مناسب اسلحه تياره کړي . الله تعالی فرمائي : يا ايها الذين آمنوا ان تنصروا الله ينصركم و يثبت اقدامكم (محمد) اے ايمان والا کهٔ تاسو د الله د دين مدد او کړئ نو الله به ستاسو مدد او کړي او ستاسو قدمونه به مضبوط کړي . بيا الله تبارک وتعالی مهرباني کوي . وعد الله الذين امنوا منكم وعملوا الصلحت ليستخلفنهم في الارض كما استخلف الذين من قبلهم وليمكنن لهم دينهم الذي ارتضى لهم وليبدلنهم من بعد

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو بعدهم امنا یعبدوننی لایشرکون بی شیئا (النور) ۵۵

الله تعالی وعده کړیده تاسو نه هغه کسانو سره چه هغوی ایمان را وړی دی او عمل نیک ئې کړی دی چه خامخا به زه دوی نه خلافت ورکوم لکه چه ئې ترنګ خلیفه ګان کړی شوی وو هغه کسان چه کوم دوی نه مخکښې وو او خامخا به زه دوی ته قدرت ورکړم. د دوی د هغه دین چه هغه دوی دپاره غوره کړی شوی دی. او خامخا به زه بدل کړم دوی دپاره امن پس له ویرې د دوی نه. دوی به زما عبادت کوی او ما سره به څوک نه شریکوی.

دُعاء مستجاب

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چه هیڅ مسلمان داسې نشته چه هغه ته کم غم یا تکلیف اُورسیږی او هغه دا دُعا اُووائی. نو مګر الله به ورنه دا غم او تکلیف لرې کړی. اللهم انی عبدک، وابن عبدک، وابن امتک، ناصیتی بیدک ماض فیّ حکمک، عدل فیّ قضاءک، اسئالک بکل اسم هو لک، سمیت به نفسک او انزلته فی کتابک، اوعلمته احدا من خلقک، او استأثرت به فی علم الغیب عندک ان تجعل القرآن ربیع قلبی ونور صدری وجلاء حزنی وذهاب همی.

(صحیح رواه احمد)

مشکوٰة ۱/۲۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـــذ عقيدتـــك

تاليف

محمد جميل زينو

(بلغة البشتو)

المملكة العربية السعودية

المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بام الحمام

تحت إشراف وزارة الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد

ت: ٤٨٢٦٤٦٦ / ٤٨٨٤٤٩٦ فاكس ٤٨٢٧٤٨٩ - ص.ب ٣١٠٢١ الرياض ١١٤٩٧

بشتو

٣٠

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library